د لوی او بخښونکي خدای په نوم
هلمند
بُست

# د هلمند لومړنۍ خپلواکه مهالنۍ جریده

۴۸

خپلواکه، تولنیزه، کلتوري او ادبي خپرونه

★ موسس: صالح – salih@inbox.com
★مسوول چلوونکی: احمدشاه پاځون a.patsoon@gmail.com
★ د وېش مسوول: دلاور پردېس(۰۷۹۹۰۶۲۴۹۰)

۶کال/ لومړی، پرله پسې اته څلوېښتمه ګڼه، د ۱۳۹۰ ل.کال، دتلې (میزان) ۳۰مه، د ۲۰۱۱ میلادي کال د اکتوبر ۲۱مه





## د ځینو مشهورو عربي نومونو پښتو ژبـــاړه

اسحاق ـــ ژړېدل، وچېدل -امجد ـــ مخور-
اجمل ـــ ښکلی-اکمل ـــ پوره-اشراق ـــ خلېدلی

دویم مخ

## پښتون په 2030 م کال کې/

**لیکوال: نصیراحمد احمدي**

ژورنالیست: کاروبار مو څنګه دی؟

پښتون: زه په نورو کې پاچا یم، ته یې وینې! همدا اوس تر لسو جوړو ډېر بوټونه د رنګولو له پاره راته پراته دي، دا بوټونه په مازې خلکو پورې اړه نه لري، ټول د دولتي مامورینو دي، ښې پیسې راکوي، نور پښتانه دومره پیسې نه شي ګټلی.

ژورنالیست: ولې؟

دریم مخ

## کالاش د خپل مړي په لګښت کې ان خپل کورونه له لاســه ورکــوي

**ژباړه : احمد شاه پاځون**

## په تیر پسې دریمه برخه

څلورم مخ

لیکنه:

# بُست ولې ټکنی سو ؟

پر ستونزو ګډیدل ندي په کار ، خو دومره یادونه باید وسي هغه ستونزو چي دهیواد په کونج کونج کي یې د چاپي رسنیو مخه ډب کړی وه بَست هم ورنه و نه ژغورل سو .

تر ټولو لویه ستونزه د خپل جیب څخه د لکښت د ورکولو ژمنه ده چي تر ډیره پایښت نه کوي . موږ وینو یو لړ چاپي رسنۍ یوازې د یوې پروژې پر بنسټ را پیل او ورسره پای ته رسیدلي دي .

دا خپله یو ناوړه دود دی خو تر دې بتر د وړیا ویشلو کلتور دی چي یو یا دوه ځله په مینه او وروسته بیا د زړه په وینه چلیږي .

اصولي لار یې څنګه ده ؟ ولې یې زموږ خلک نه عملي کوي ؟ ددې ځواب ډیر ساده دی رسنۍ باید یو سیستم را پیل کړي نه شخص ، لګښت یې باید د جیب پر ځای بودیجه ورکړي بیا به نو داسې وي لکه په جاپان کي د یوې ورځپاڼې دفتر چي ملي بس پکې مامورین له یوې خوابلې ته وړي .

وای د لاس تپاکه ملغلره ده ، داسې نه چي دې چکې چکې کارونو نو اغیز ندی کړی نن په هیواد کي په سلګونه چاپي خپروني موجودي دي دا د همدې لړ او بې کیفته کار برکت دی چي یو لړې یې په لوړ کیفت او کمیت چاپیږي .

یوه بله بدبختي مو هم په برخه ده هغه کس چي احساس لري پیسې نلري او چي پیسې لري ددې شیانو احسان ورسره نه وي . نو مجبوره یو دې حالته یو نه یو ډول کار واخلو

نو له دې امله چي زموږ د کلونو کلونو د زیار تپاکه رانه و نه چوي او هم داسې مغلره پاته سي بَست مو دا ځل په مهالني شکل درته را مخته کړ .

وای چي له هیڅ نه یو څه کول هم غوره دي

په درنښت

اداره

## د یو شمیر عربي نومونو پښتو ژباړه

### نارینه نومونه

اسحاق ـــ زړېدل، وچېدل
امجد ـــ مخور
اجمل ـــ ښکلی
اکمل ـــ پوره
اشراق ـــ ځلېدلی
ایاز ـــ د شپې شمال
بارق ـــ ځلاند
بسام ـــ خندان
بهلول ـــ خوشال
بلال ـــ جوار،مایع چې ستونی لمدوي
تمیم ـــ عربي ټبر
جعفر ـــ لویه ویاله،نهر
حنان ـــ هیله من،مهربان
حنیف ـــ سم،د دین ستن
حیدر ـــ لنډی
خالد ـــ تلپاتې،جاوېد
حداد ـــ پښ
حسام ـــ تېره توره
حسیب ـــ شمارګر
خلیل ـــ زړه سواند
راتب ـــ ټینګ
رهین ـــ ګرو شوی
ریحان ـــ کشمالی
سید ـــ ښاغلی
صدام ـــ نیم سری،سردرد
صفدر ـــ څېروونکی
صفي ـــ اندیوال
عاصم ـــ ځاروان
عامر ـــ ودان
عبید ـــ غلام ګوتی
عتیق ـــ ازاد شوی غلام
عثمان ـــ کبلي،دغرڅه بچی
عماد ـــ اړم
فواد ـــ زړه
فیصل ـــ واکمن
فرید ـــ یوازینی
مجیب ـــ ځواب،دوعاقبلوونکی
مخدوم ـــ بادار
مناف ـــ لوړ
نقیب ـــ ملک
نعمان ـــ غاټول
هارون ـــ څوکېدار
هاشم ـــ توټې کول،ماتول
ویس ـــ دروېزه
یعقوب ـــ زرک

### زنانه نومونه

اسیه ـــ غمګینه
حمیرا ـــ سوروښتی
راحله ـــ کوچۍ
سمیره ـــ چې د شپې کېسه وایي
سمینه ـــ غټه،څربه
سلما ـــ روغه،یوډول پخواني عربي شراب
زبیده ـــ پېروی، رش
زینب ـــ ښایسته ونه
شاذیه ـــ کمیاب
شکیلا ـــ سره سپینه
شمیم ـــ خوشبویه
شیما ـــ خالداره
صفیه ـــ د خرما ډکه ونه،ټاکلې انډیواله
عبیده ـــ غلام ګوتې
فاطمه ـــ ښځه چې ماشوم یې له تې پریکړی وي
فوزیه ـــ بریالۍ
عأیشه ـــ ښه ژوند
کلثوم ـــ غټمخې
لمحه ـــ دسترګو رپ
نادیه ـــ بلونکې
هایده ـــ توبه ګاره

# پښتون په ۲۰۳۰ کې

ژورنالیست: ولې نه، هه! دا دي، خو زما پوښتنه بې خوابه پاتې شوه.

پښتون: څه؟

ژورنالیست: مخکې دې وویل چې نور پښتانه دومره پیسې نه شي ګټلی، ولې؟

پښتون: هې وروره! څه درته ووایم! ټول پښتانه یا جوالیتوب کوي، یا د نورو په کورونوکې مزدوران دي. بختور یې هغه دی چې په ښاروالي کې د لارو کوڅو د پاکولوکار ورته پیدا شي، د ښار ټول سوالګر پښتو وايي، خو زه د خپل زړه پاچایم، بل پښتون ته کله داسې د خپل واک او د عزت کار رسیدی شي.

ژورنالیست: خو په دې وطن کې هر موچي پښتون دی، ته تر نورو موچیانو څه ښه والی لرې؟

پښتون: هاغه مخامخ دنګه مانۍ وینې؟

ژورنالیست: مخامخ خو ډیر هسک تعمیرونه دي، په یوه پنجشیر بازرګاني مرکز لیکل شویدي، په بل یې د هزارستان نوم ایښی، د هغې دیرش پوړیزې ودانۍ پر سر بیا د ازبک انټرنیشنل هوټل نوم لیکلی دی، ته یې کوم یو یادوې؟

پښتون: هاغه څنګ ته ولاړه هسکه مانۍ ښیم . هاغه چې تر مخې یې څو دوه زره دیرشم ماډل موټر ولاړ دي.

ژورنالیست: ومې لیده.

پښتون: د هغه تامیر څښتن قربانعلي تومېړي، ډیر مهربانه انسان راته ښکاریږي، یوه ورځ یې وروبللم، ډکه خلطه جامې یې راکړې، ویل یې چې د ماشومانو یې دي، ډیرې نه دي استعمال شوې. خپلو اولادونو ته یې ور واغونده.

ژورنالیست: ښه ، نو بیا؟

پښتون: له هماغې ورځې راهیسې راباندې ګران شو، ته څو پوهیږې چې دومره شتمن خلک کله د خوارانو پوښتنه کوي، څو خله یې سلام ته ورغلم، بله ورځ یې را یاده کړه چې زما د مغازې تر مخې موچیتوب کولای شې، اوس پوه شوې چې زه ولې تر نورو موچیانو ښه یم.

ژورنالیست: نه.

پښتون: دا د ښار مینځ دی، دلته نورو موچیانو ته څوک ځای نه ورکوي، خو زما واسطه قوي ده. ته څو پوهیږې! ټول دولتي او غیر دولتي کارونه د دوی په لاس کې دي. تاجک، ترکمن او ازبک هم همداسې درواخله. له عادي ماموره رانیولې، تر ریس، وزیر او ان ریس جمهور پورې، ټول دوی دي، عادي کس یې ، دوه ــ درې کوره او څو موټرې لرې، د ټولو اولادونه په خارج کې سبقونه وايي.

ژورنالیست: ایا داسې پښتون در مالوم دی چې کوم ماموریت ولري؟

پښتون: هه، هه، هه... ښه ټوکه وه، له خندا دې مړ کړم، خو کوره، دا خبره دې کوم بل چاته تر خولې ونه وځې! متل به شې.

ژورنالیست: ولې؟

پښتون: ته څنګه خبریال یې! په دې هم نه پوهیږې چې اوس هغه پخوانی زمانه نه ده، اوس د دفتر ډیر عادي کار هم د پوهنتون استاد غواړي. کوم پښتون دې درس ویلی؟ هه!

ژورنالیست: ما وبخښه، پام مې نه و. خو دا راته ووایه چې پښتون ولې دومره دربدره شو چې ان وچه ګوله نه شي موندلی؟

پښتون: څه! زه به خپله کیسه درته وکړم، ټول پښتانه همداسې در واخله.

ژورنالیست: سمه ده، وایه!

پښتون: زه څلویښت کلن یم، په ورکتوب کې مې له مکتب سره جوړه وه، خو پلار مې په دوه ــ دوه کېده، ویل یې چې پلار دې مکتب ویلی که نیکه؟ مکتب به څه وي، ګټه به یې څه وي. څه! خپلې اوږې دې پیایه.

د کلي څو ماشومان مکتب ته تلل، خو وروسته هغه هم ترې بیغمه شول، مکتب یې وسوځاوه.

چې لږ غټوکی شوم، پلار مې په ګټه پسې ایران ته ولیږلم، اوه کاله مې مزدوري وکړه، کورته راغلم، په نس نه وو ماړه، په قاچاقي لارو مې دوبی ته مخه کړه، پنځه کاله له یوه عرب سره مزدور وم، یوه ورځ پولیسو ونیولم، ګټلې پیسې مې له عرب سره پاتې شوې، وطن ته یې را واړولم، پلار مې مړ و، څمکه مې خرڅه کړه، واده مې وکړ، په کلي کې نیستي وه، ښار ته راغلم، اوس موچي یم.

هه! واخله، بوټونه دې ورنګېدل.

ژورنالیست: څو اولادونه لرې؟

پښتون: مال د خدای، دوولس.

ژورنالیست: اولادونه دې څه کار کوي؟

پښتون: دوه زامن مې جوالیان دي، دوه نور د خښتو په بټۍ کې کار کوي، یو هم پلاستیکي خلطې پلورې.

ژورنالیست: کور لرې؟

پښتون: هه، هه، هه... پوښتنه دې بیا له عقله لیرې ده، تا کوم پښتون لیدلی چې په ښار کې کور ولري.

ژورنالیست: نو چیرته اوسې؟ پښتون: خدای یو تاجک راباندې مهربانه کړ، په خپل کور کې یې دوې کوټې راکړې، میرمن او پیغلې لوراني مې د هغوی د کور کارونه کوي، جامې یې مینځي او ماشومان یې کراروي. په مقابل کې کرایه نه رانه اخلي.

ژورنالیست: ته خو پښتون یې، څنګه دې غیرت منې چې پیغلې لوڼې او څوانه میرمن دې د نورو په کورونو کې مزدوري وکړي، هغه د پلار نیکه شمله دې څه شوه، هغه تاریخ دې څه شو. هغه توره دې څه شوه؟

پښتون: هې وروره! په دې خبرو پسې مه ګرځه! اوس زمانه بدله ده، د تورې ځای قلم نیولی. موږ همدو غټو غټو خبرو غرق کړو، په خپله هیڅ هم نه وو، په تاریخ به نازیدو، درس او تعلیم ننګ راته ښکارېده، اوس یې نتیجه وینو، نه توره دوډۍ راکولی شي او نه هم د پلار نیکه اوږدې شملې.

زه خپل ماشومان نه شم وژلای، د ژوند له پاره باید یو څه وکړو. ته ووایه! پښتون بل کوم کمال لري؟ همدا پردې مزدوري به کوو.

ژورنالیست: هه! دا دي هم د بوټونو د رنګولو پیسې، خدای دې مو پرده وکړي.

پښتون: هې ! یوه بله واوره!

ژورنالیست: څه؟

پښتون: ته خو خبریال یې، له ډیرو خبرو خبریږې، اوریدلي مې دي چې پښتانه له ښارونو څخه وباسي، دا خبره سمه ده؟

ژورنالیست: هو ! وايي چې پښتانه بیسواده دي، په ښاري ژونداو ښاري نزاکتونو نه پوهیږي. ټول سوال کوي، جامې یې هم خیرنې او زړې دي، اوس دوه زره دیرشم کال دی، ښارونه بد ورسره ښکاري.

پښتون: څه وخت؟

ژورنالیست: نه پوهیږم، راتلونکې اونۍ به د وزیرانو شورا تصمیم ونیسي.

پښتون: خدای مهربانه دی، هغه هزاره اشنا مې په حکومت کې ډیر واک لري. کیدای شي چې نوې تذکره راته واخلي، داسې تذکره چې د پښتون پر ځای، تاجک یا هزاره پکې لیکلي وي.

ډاکټر محیب الله زغم

# په شرع کې څه شرم

ها بله ورځ یوه سړي خپله مېرمن د زړه د معاینې لپاره راوستې وه. ما وکتله، معاینه چې خلاصه شوه او دوی ولاړل، ومې لیدل، چې د معاینې مېز مې په وینو سور دی. مېرمنې میاشتنی مریضي لرله. شاید ټوکر به یې نه وا استعمال

کړی، له پایڅو یې هم وینه څڅېدلې وه.

یو وخت مې په یوه کلي کې کار کاوه، یو وړوکی کلینیک مو و. قابله هم راسره وه. ځینو خلکو، چې د مور او ماشوم روغتیا ته به یې پام کاوه، خپلې ښځې به یې د زېږون لپاره هلته راوستلې. کله کله به داسې هم کېدل، چې د زېږون له کوټې څخه به د کلینیک تر دروازې پورې پر ځمکه د وینو لیکه جوړه شوه. ځینې مېرمنو له ځانه سره ټوکر نه راوړه او که به ټوکر هم ورسره و؛ نو د استعمال طریقه به یې نه وه سمه. د ټوکر د ټینګ نیولو لپاره باید نیکر وا غوستل شي؛ خو زموږ په اکثرو کلیوالو سیمو کې نیکر څوک نه پېژني.





زړه نا زړه وم چې دغه مقاله ولیکم که نه؛ خو د ملا صاحبانو خبره مې رایاده شوه چې وایي ((په شرع کې څه شرم)). دغه موضوع له څو اړخونو مهمه ده. یو دا چې دا د مېرمنو له سلیقې او نظافت سره رابطه لري، بله دا چې د دوی د پردې خبره ده او مهمه لا دا چې له روغتیا سره یې اړه لري.

کله چې د مېرمنو میاشتنی جامې راځي، د رحم داخلي برخه یې چې اندمتر نومېږي، رژېږي او له وینو سره تویېږي. په دې حالت کې چې رحم زخمي وي، میکروب په اسانۍ سره بدن ته ننوتی شي. لکه د کور د دېوال یوه برخه چې سوري یا ړنګه وي او دوړې په کې ننوځي. د نفاس (له زېږونه وروسته خونریزي) په حالت کې هم د ماشوم جوړه یا ((مرض)) چې له رحمه جلا کېږي، ځای یې زخمي وي؛ نو د میکروب د ننوتو لپاره لاره هواره وي. د رحم ګزک په ننس کې د ماشوم د مړینې سبب ګرځېدلی شي. کله کله د رحم دوامدار ګزک مېرمنې له اولاده غورځوي، دوی بیا د امیدوارۍ وړتیا له لاسه ورکوي.

ځینې مېرمنې خپل ټوکر پاک نه ساتي؛ ځکه خو زموږ په خلکو کې د رحم ګزک خورا زیات لیدل کېږي. هغه ټوکر چې د جامې یا د نفاس پر وخت استعمالېږي، باید هره ورځ بدل شي، په صابون پرېمینځل شي او لمر ته واچول شي. د ټوکر اتو کول هم د میکروبونو د له منځه

وړلو لپاره ضروري دي. په دې وروستیو کلونو کې د ((کوټکس)) په نامه تیار ټوکرونه بازار ته راغلي او په درملتونونو کې پیدا کېږي. کوټکس یوه دا ښېګڼه لري، چې نرم او وړوکی وي او استعمال یې څوک نه په عذابوي، بله ښېګڼه یې دا ده چې په ماشینونو کې صفا شوي وي، میکروب په کې نه وي او بل ښه والی یې دا دی چې هر کوټکس فقط یو ځل استعمالېږي.

له استعماله وروسته د کوټکس سوځول هم د مېرمنو پرده خوندي کوي او هم د میکروب د ودې زمینه له منځه وړي. کوټکس چې تر نیکر لاندې اېښودل کېږي، له رحمه راوتلې تو له وینه جذبوي او کالي له ککړېدو څخه ساتي. دا د مېرمنو پرده هم خوندي کوي؛ ځکه چې څوک پرې نه پوهېږي، چې د جامو وخت یې دی.

# کالاش د خپل مړي په لګښت کې ان خپل کورونه له لاسه ورکوي

ژباړه: احمد شاه پاخون

ځنګه چې تاسو په تیر سوي څېرکي کې ولوستل چې په ربمور دره کې د کالاشو د میلې څخه د بیرته ګرځېدو پر مهال د دوو ښکلو انجونو په اشارې د هغوی کور ته ورغلو نو هغوی موږ په غره کې کندل سوي یواځنی کوټه کې کښېنولو او د چایو ست یې وکړ.

ما د هغوی څخه مننه وکړه و مې ویل چې چای ډیري کمې څښم هغه دواړو انجونو زموږ د موټر چلوونکي سره پیژندل انجونو وویل که ژمې او که دوبی دوی ټول په همدې یوه کوټه کې بیدیږي د کوټې په دواړو خواوو کې پورته کښته دوه دوه کټونه پراته وو د کوټې په منځ کې د اور بلولو نغری وو.



د لږ خنډ وروسته مو د هغوی څخه رخصت واخیست او د غره څخه راکښته سوو پر لارې موټر چلوونکي عثمان وویل چې زه د بموریت درې اوسیدونکي یم او د تیرو پنځویشت کالو راهیسې ټکسي چلوم د هغه د وینا سره سم د چلم جوشت د میلې پر مهال انجونې او هلکان د دواده کولو په موخه تښتي او هغوی د تیښتې لپاره د ده موټر په کرایه نیسي موټر چلوونکي وویل چې هغه تر اوسه یوسل او دولس جوړې تښتولي او د هغوی د خوښې په واده کې یې ورسره مرسته کړې هغه وویل چې د ټولو ریکارډ زما په کور کې پروت دی.

د چترال د دریو واړو درو بریر، رمبور او بمبوریت ټول نفوس د دولس زره په شاوخوا کې دی لیکن په هغوی کې د کالاشو شمیر یوازې درې یا درې نیم زره کسه دی. تر ټولو ښکلې او مهمه خبره دا احساسیږي چې هلته مسلمانان او کالاش په خپل منځ کې بیله کومې کرکې یو ځای ژوند کوي.

ما چې د عثمان موټر چلوونکي دا خبري واورېدلې حیران سوم او فکر مې وکړ چې څومره ښه سړی دی چې د یوسل او دولس جوړو سره یې د هغوی د خوښې په واده کولو کې مرسته کړې

په دې خبرو کې د موټر تمځای ته ورسیدلو د ډوډی خوړلو وروسته د کالاشو د نفوس په حساب تر ټولو لویې درې بمبوریت ته روان سوو. شاوخوا د یو نیم ساعت سفر وروسته بمبوریت ته ورسیدو

دا دره هم ډیره ښکلې را ته و ایسیده، د غنمو رېبدونکی کښت، لوړ شنه او زرغونه غرونه، د چارمغزو، انځرو او زرد الو ونو ددې درې په ښکلا کې مهم رول لوبولی وو. په بمبوریت کې کوچنې کوچنې دکانونه سته او د کالاشو په د کالونو کې رنګارنګ جامې، د ملغلرو لاړونه، کنګن یاني هر هغه څه چې د دوی د میلو په مراسیمو کې د کالاشو د رواجونو او ثقافت انځور وو لیدل کیدل. سامانونه مو په هوټل کې ځای پر ځای کړل نژدې پروت د کالاشو یو کلي ته ورغلو اکثره کسان د زرد الو او شهتوتو په شرابو مست لیدل کیدل.

د کالاشو ددې کلي د مشر شهزاده خان کورته ورغلو نو د هغه میرمنې رحیما زموږ ډیر ښه هر کلي وکړ، شهزاده خان دومره لوستی نه وو خو ګرځېدلی او تجربه کار راته ښکاره سو. هغه وویل چې د پاکستان پخوانی ولس مشر جنرال مشر ف سره د څو نورو مشرانو، عامو او فوځي افسرانو د دوی میلمستون ته ورغلی. هغه ویزټر بک (د ملاقات کوونکو کتاب) هم جوړ کړی وو او هغه په خپل میلمستون کې یو شمیر انتیک او نادر شیان هم راغونډ کړي وو. هغه د لرګي یوه تخته را وښوده چې د هغې په دننه کې په طبعي توګه د مدر ټریسا څیرې ته ورته انځور جوړ وو. هغه ته زه هم حیران سوم او هغه غاب ته ورته تخته مې په غور و کتل چې ګنې هسې نه معنوعي جوړه وي. خو هغه یوه طبعي تخته و ایسده.

شهزاده خان هغه عکسونه را و ښودل چې د پخواني ولس مشر جنرال مشرف سره یې اخستي وو د هغه څخه مو و پوښتل چې ایا تاسو مشرف ته د زرد الو یا شهتوتو شراب ورکړل ؟ هغه په خندا سره د نه خواب راکړ. د هغه د کور ګیر چاپېره پالیزونه دي او غنم را شنه سوي دي. ددې تر څنګ هغوی غواوي او بزې هم ساتلي وې.

د هغه میرمنې رحیما موږته تازه پنیر او وچه میوه وړاندې کړه او خپله د ډوډی پخلو په موخه پخلنځی ته ولاړه.

د هغوی د کور د غړو سره مو داسې خبري پیل سوې چې ګنې موږ د هغوی سره د کلونو راهیسې پیژنو او یا د هغوی کو خپلوان یو.

رحیما را ږغ کړل څی به نه زه ستاسو لپاره خانګړې ډوډی برابروم. هغې پنډه غنمینه ډوډی چې په منځ کې یې د چارمغزو پوډر وو پخه کړه. عزیز احمد وویل چې دلته په هر کور او مځکه کې د چامغزو وني سته او دغه ډول ډوډی تقریباً په هر کور کې موندل کیږي. موږ د رحیما او شهزاده خان څخه رخصت واخیست ځکه هغوی باید میلې ته د تګ لپاره چمتوالی هم نیولی وای او موږ هم د ټولې ورځې د سفر له امله زیات ستړي سوي وو.

د چترال د دریو واړو درو بریر، رمبرو او بمبوریت ټوله نفوس شاوخوا دولس زره ته نژدې دی خو په دې کې د کالاشو شمیر یوازې د درې څخه تر درې نیم زره پورې رسیږي. تر ټولو ښکلې او مهمه خبره دا احساس سوه چې هلته مسلمانان او کالاش پرته له کوم مذهبي توپیر څخه ژوند کوي او د هغوی په منځ کې زیاته وروروي وجود لري عزیز احمد وویل نور په شپږم مخ کې

## پاته کالاش د مړي په لګښت کې ان ...

چې ځینو ملایانو د دوی په منځ کې د نفرت خورولو هڅه هم کړې خو چترالي کسانو د هغوی هڅه ناکامه کړه . ماته د سند د سیمې عمرکوټ راياد سو چیري چې ۵۵ سلنه هندو اوسیږي او د هغه ځای هندوان او مسلمانان د کلونو راهیسي په مذهبي اختلافونو کي راګیر دي .

د کالاشو د کلي څخه ووتو او د غنمو د کښت په منځ کي د تیریدو وروسته سړک ته ووتو د سړک په غاړه کي مو یو زندان ته ورته ځای تر سترګو سو او د دروازې د ننه څخه کالاش انجونو بیرون ته کتل زما تر پوښتني مخکي موټر چلوونکي عثمان وویل (( دا ودانی د یونان یو غیر دولتي اداري جوړه کړې او د کالاشو دا رواج دی چې د هغوی ښځي د میاشتنی ناروغی پر مهال په دې کور کي اوسیږي .

د میاشتنی ناروغي پر مهال انجلی که میړوښه وي او که پیغله په کور کي نسي پاته کیدلای . که کومه ښځه ماشوم زیږوي هم دې کور ته ورځي او تر ښهٔ کیدو پوري هم هلته اوسیږي ))

دا تولي خبري هغه پرته له کومي وفقې څخه وکړې .

زموږ لارښوود عزیز احمد زه د کالاشو هدیرې ته بوتلم چې هلته د لرګي په تابوتونو کي هډوکي پراته وو . د سیند پر غاړه دې هدیرې کي د دیار ډیري پنډي پنډي تندې لرونکي وني وې هغوی وویل چې دا درختي د ۵۰ څخه تر سلو کالو عمر لري .

هغه زیاته کړه چې کالاشو به مخکي خپل مړي د مځکي پر سر په تابوت کي ایښودل او پر هغوی به یې لوی لوی ډبري ایښودلې . خو په وروسته کي هغوی د نرانو ښخول پیل کړه . هغوی وویل چې د کالاشو په قبیله کي یو عجیبه او حیرانوونکی رواج دی چې هغوی د مړي په لګښت کي خپل کور هم د لاسه ورکوي . ددې د تفصل لپاره څلومي برخي ته منتظر سی                نور بیا

## د چك جمهوریت د شلمي پیړی نامتو لیکوالان



ژباړه :صالح محمد صالح

کارل چاپېک د چک جمهوریت تر تولو لوی لیکوال، ژباړن، د ډرامو لیکوال، خبریال، کره کتونکی او فیلسوف ګڼل کېږي. نوموړي په چکسلواکیا کې د نړیوالو لیکوالو د ارګان (قلم تولنې) یوه څانګه پرانیستله. نوموړی په چکسلوالکیا کې د پرانیستل شوې تولنې د لومړني مشر تي، جي، مساریک ملګری و. له سفر سره یې زیاته مینه وه.

چاپېک لنډې کیسې ولیکلې (پیسې او نورې کیسې) ناولونه، ډرامې، تمثیلي توتې او نور اثار یې ولیکل. دهٔ په خپل (له سمندري سوسمارانو سره جګړه) نومي ناول کې د فاشستي حکومت د زیانونو په اړه خبرې کړې دي.



نوموړی د نمونیا په ناروغی اخته شو، د مونشن تړون تر لاسلیکېدو شا و خوا درې میاشتې وروسته یې له دې نړی سترګې پتې کړې.

(د مونشن تړون: دغه تړون، د چکسلواکیا، جرمني، فرانسې، ایتالیا له خوا لاسلیک شو(۱۹۳۸ د سپتمبر ۳۰مه) هدف یې د اروپا په دې برخه کې د نازي پاڅون راکمول و- ژباړن)

### یاروسلاف سېفرت(۱۹۰۱-۱۹۸۶)

سېفرت د چک جمهوریت ملک الشعراء ګڼل کېده، چې په ادبیاتو کې یې د نوبل جایزه هم اخیستې ده. نوموړی د شاعر تر څنګ خبریال هم و. په ۱۹۲۰م کال کې سېفرت د یوې کمونیستي مهالنی خپرونې اډیټر و، خو د لسیزې په پای کې نوموړی د خپلو افکارو له کبله دې پارتی څخه وایستل شو.

په هغه وخت کې نوموړی د هنر په برخه کې په چک کې زیات مشهور و، خصوصاً د اوانګار هنر. تر ۱۹۴۹م کاله پورې نوموړي د سوشیل ډیموکراتیکانو پلویانو ورځپاڼو او مجلو ته لیکنې کولې، وروسته یې یوازې شاعری ته مخه کړه.

ډېر پیاوړی شاعر و، د دهٔ هنر ډېر خلک حیران کړي وو. د دهٔ ځینې تولګې (بلبل په خواری سندره بولي ۱۹۲۶)، (څراغونه مړه کړه


فضل هادي فضليار
راشــه د گل غوندی، سپرلي غوندی بشــر دربنــيم
ځــان ته دی وگوره بــس دغه شــان نفر دربنــيم
د زلفو وریځو کی یی پټ ساته که روغ می غواړی
دا لمرين مخ ، دا د مين د مرگ خطر دربنـــــيم
عجب مقتول دی، خپل قاتل لکه ایمان پری گران دی
مړی؛ خو خپل زړه او دا ســتا مړاوی نظر دربنــيم
په هغي ژمنی دی بــــلا مازیگري واوبنـــــتل
تا چی ویل همدا راتلونکی مازیگر دربنــــــيم
بــاور می نشــي چی له تور غره نه دی کم وي گرانی
ستا په سینه کی دا د تورو تیگو غـــــــر دربنيم
ته یی خوبنیړی (لمــر) په تا باندی مین دی گــرانی!
دا چی دا ځمکه باندی گرځی دغه لمـــــــر دربنيم


مســــــاپردي دزړه زور ورسره يــوسي
دعـــــاگانې دي دمــور ورسره يــوسي
موږحالات هم دنيستې په اورکې سوځي
زموږ زلمي به څومره نور ورسره يوسي
درده! ته څــــو ورتــه ووايه داځـــــلي
زمـــــايادونــه دي ضرور ورسره يــوسي
پردي کلي کې چې څـــوک دسر سړی دی
دابه هم په گــــوم يوتــــور ورسره يوسي
دسفرملگــــــري بنـه وي ای بختياره!
مړملگـــــری به ترگـور ورسره يــوسي
بختيارخدران صاحب
Design By
Yaseen Shafaq

# زوقي ، ادبي او په زړه پوري

## پیاد ه لار

ژباړه: احمد شاه پاڅون



((ای ..... پورته سه ! دلته ولي بیده یې ؟ )) پولیس بیده سړی پر پښه په ډنډه ووهی ، هغه په بېړه راپورته سو . پولیس وویل :((تاته نده مالومه چي د سړک پر سر خوب کول د قانون خلاف دي ؟))

تازه را ویښ سوي سړي په تعجب پولیس ته و کتل او زیاته یې کړه (( نو چیري بیده سم ؟))

پولیس په غوصه ورغبرګه کړه (( کورته ولاړ سه ))

تر ژبي لاندي وویل (( کورا )) او ورسره یې د نن سهار کیسه به ذهن کی تیره سوه چي د کرایې د نه لرو له امله د کور مالک د هغه سامان سړک ته غورځولی وو –د هغه له ډیرو زاریو سربیره چي ورته ویل یې کله معاش واخلي نو کرایه به ورکړي ، د کور مالک ونه منل . د هغه سره دومره پیسې وې چي یوازي څو وخته ور بانـدي ډوډی وخوري نو په هوتل کي به څنګه اوسیدای .

د پولیس په ږغ له فکرونو را و ووت (( څه سوچ یوړې )) که کور نلرې راکړه دوې روپی کنه څه ددغه ځایه ورک سه .

د یوې لحظې دوه زړه توب وروسته د خوب مزه غالبه سوه ، سړي له جیبه دوې پوری را وکښې د پولیس په غوړیدلي ورغوي کي یې کښېښودې بیا یې پـیـښـې و غځولې او د خوب په نړی کي ورک سو ، پر څهره یې ژور ارام او اطمنان و غوړید

## دوې ټوکي

ژباړونکی او چمتوکوونکی، سراج الدین کلیوال هرات ښار

ماختیکی وخوړئ.

درې ملګري چي یو ئې کندهاری ،بل ئې کابلی او دریيم ئې هراتی ول ، یوه دوکان ته ولاړل او یو دانه ختیکی ئې رانیوه.

کله چي کور ته ورسېدل، نو یو هغه نورو ته وایي، چي دا ختیکی خو ډېر کوچنی دئ او زموږ درې وا ړو نه بسېږي ، داسي کار به وکړو ، چي

اوس به بیده سو ، هرچا چي ښه خوب ولیدئ ، ختیکی به هغه ته ورکړو ، چي یوازي ئې وخوري.

کله چي سهار سو ، او درې واړه ملګري له خوبه راپورته سوه ، نو یو بل ته ئې وویل چي څه خوب مو ولیدئ.

کابلی وایي ، چي ما په خوب کي ولیدل چي زه په جنت کي یم ، او ډېري ښې مېوې راته پرتې وې.

هراتی وایي ، ما په خوب کي ولیدل ، چي ډېري پیسې مي پیدا کړي وي او ډېر ښه ژوند باندي تېروم.

کندهاری ته وایي ، اوس ته خپل د خوب کیسه وکړه ، چي بیا ښه خوب مالوم کړو.

کندهاری ورته وایي ، کله چي تاسو ویده واست ، ما ته خوب نه راتللی ، خو ولاړ سوم ختیکی مي وخوړئ.

## حیوا ن پېژند نه

یوې ښوونکي په ټولګي کي زده کوونکو ته د حیوانانو د پېژندني په هکله درس ورکاوه.

ښوونکي یوه زده کوونکي ته دیوه حیوان پښه ورښکاره کړه ، چي دا پښه وګوره ، او بیاد حیوان نوم راته واخله.

زده کوونکي ورته وویل چي زه ئې نه سم پېژندلی.

لږ وروسته ښوونکې له زده کوونکي څخه پوښتنه وکړه ، چي نوم دي څه دئ ، چي یو غټ صفر درکړم ؟

زده کوونکي خپله پښه ورته ښکاره کړه ، او ورته ئې وویل زما نوم هم زما د پښې څخه پیدا کړه.